مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۷/۱۰

# غـزل

ننوتی مي په زړه باندې خنجر دی
د خیرنو سترګو تل پر ما نظر دی

لوڅې پښې، څیرې ګرېوان، خاورې په سر دی
چې افغان بچی په دغسې سفر دی

دې حالاتو ترې جومات او مندر ورک کړ
اوس د دین او د ایمان نه ناخبر دی

زما په اوښکو وسه رسي، لپې اخله
زما سترګې، سترګې نه دي، سمندر دی

د زلمو د سترګو تور په سرو بدلیږي
دنګ چنار دی سوزېدلی، وران ګودر دی

دا چې هېڅ کله منزل ته نه رسیږو
غولېدلی مو د بل په خوله رهبر دی

پسرلیه! د غزل تکي دې ژاړي
ستا د زړه لوګی د خولې نه رابهر دی

مصطفی پسرلی
07/07/2019



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ